DAILY ارادہ

د افغان نشراتي مرکز ملي خپلواکه ورځپاڼه

سال تاسیس ۱۳۷۹ هـ . ش

۹۴۸

یولسم کال - دویمه دوره، ۹۴۸ مه گڼه، پر له پسې ۲۰۱۵ گڼه د ۱۳۸۹ ل ـ د مرغومې ۷ مه - د سې شنبې ورځ، د ۱۴۳۲ هـ ق محرم الحرام ۲۲ مه ۲۰۱۰ د ډسمبر ۲۸ مه

PROPERTY OF ACKU

AFGHAN MEDIA RESOURCE CENTER A.M.R.C

پاکستان دلیل ناامنی در منطقه را درک کرده است

حکومت افغانستان، نشست سه جانبهٔ استانبول را دستاورد عمده یی برای مبارزه با تروریزم در منطقه خوانده است.

وحید عمر، سخنگوی رییس جمهور کشور، در یک نشست خبری دیروز در کابل اظهار داشت که حکومت پاکستان به تازه‌گی پذیرفته است که مشکل ناامنی در منطقه را می توان به همکاری افغانستان حل کرد.

طبق گفته های وحید عمر تا سه سال پیش، مذاکرات میان مقام های افغان و پاکستان در یک فضای سوء تفاهم ص۳

د ټاکنیزو دوسیو د څېړلو لپاره ځانګړې محکمه، ځانګړې موخې؟!



د هېواد د پارلماني ټاکنو لانجه نه یوازې په خپل ځای پاتې ده، بلکې ورځ تر بلې د قدرت د بېلابېلو کړیو د ښکاره او مرموزو لاسوهنو له امله نوره هم خوړینېږي او کړکېچنه کېږي. د افغانستان د ټاکنو دوسیه دمګړی د څارنوالیو تر دفترونو هم تېره شوې او اوسمهال د سترې محکمې په دیوانونو کې د وروستۍ پرېکړې لپاره انتظار باسي.

تېره ورځ د سترې محکمې یوه چارواکي له رسنیو سره په خبرو کې څرګنده کړه، چې د سترې محکمې په وړاندیز او د جمهوري ریاست په منظورۍ د ولسي جرګې د ټاکنو د معترضو کاندیدانو د حقوقي ادعاوو د څېړنې په موخه ځانګړې محکمه جوړه شوې دد.

دغه چارواکي زیاته کړه، د کابل ولایت د استیناف محکمې رییس قضاوت مل صدیق الله حقیق ددې محکمې د رییس په توګه، د بغلان ولایت د استیناف محکمې رییس قضاوتپوه عبدالرحیم کریمي، د جوزجان ولایت د استیناف محکمې رییس قضاوت مل فضل الرحمن فضلي، د کابل ولایت د استیناف محکمې د عامه امنیت دیوان رییس محمد صفا کریمي او د سترې محکمې د عامه امنیت دیوان مستشار قضاوتیار دل محمد ددې محکمې د غړیو په توګه ټاکل شوي دي.

هغه همدا راز څرګنده ۳مخ

نقشه‌های محرمانهٔ سازمان ملل، بیانگر وخامت اوضاع در افغانستان

به رغم ادعاهای کاخ سفید مبنی بر پیشرفت استراتیژی در افغانستان، نقشه‌های محرمانهٔ سازمان ملل نشان می‌دهد، در بخش‌هایی از افغانستان در سال جاری به وضوح شرایط امنیتی وخیم‌تر شده است. به گزارش خبرگزاری خبرگزاری فرانسه، روزنامهٔ امریکایی وال ستریت ژورنال، دو نقشهٔ سازمان ملل را با یکدیگر مقایسه کرده است که یکی از آنها شرایط امنیتی را در آغاز فصل درگیری امسال در ماه مارچ و دیگری شرایط را تا اواخر اکتوبر نشان می‌داد. به گزارش وال استریت ژورنال، در حالی که شرایط امنیتی در جنوب افغانستان تقریبا بدون تغییر و در وضعیت "پرخطر" باقی مانده است، شرایط در ۱۶ منطقهٔ شمال و شرق افغانستان وخیم‌تر شده است. یک سال از دستور بارک اوباما، رییس جمهور برای افزایش ۳۰ هزاری در شمار نیروها جهت آماده شدن برای واگذاری مسوولیت‌های امنیتی به دست نیروهای امنیتی افغانستان تا سال ۲۰۱۴ می‌گذرد. اوایل ماه جاری نیز، در بازبینی استراتیژی جنگ در افغانستان، اوباما دستاوردهای این استراتیژی را "مناسب" توصیف کرد، اما هشدار داد که این پیشرفت‌ها بی‌ثبات است.

وال استریت ژورنال با بررسی نقشهٔ ماه اکتوبر اعلام کرد:

وضعیت امنیتی که در ۱۶ منطقهٔ شمال و شرق افغانستان پیش از این امن‌تر بود، به وضعیت "پرخطر" رسیده است. این مناطق در ولایت‌های "بادغیس، سرپل، بلخ، پروان، بغلان، سمنگان، فاریاب، لغمان و تخار واقع شده‌است. این روزنامه در ادامه نوشت: تنها دو منطقه، کندز در شمال افغانستان و هرات در غرب افغانستان که در گذشته در وضعیت پرخطر بود، در ماه اکتوبر وضعیت امنیتی بهتری پیدا کرده است. تحلیلگران هشدار داده اند، به رغم آنکه پایگاه‌های شبه نظامیان طالبان در جنوب قرار دارد، اما وضعیت بروز خشونت در شمال افغانستان در حال بدتر شدن است. این روزنامهٔ امریکایی در ادامه نوشت: سازمان ملل از این نقشه‌ها برای ارزیابی خطرات سفر و پیشبرد طرح‌ها در افغانستان استفاده می‌کند.

مشرانو جرګې هم معترضو کاندیدانو ته شا کړه

د مشرانو جرګې د شکایاتو د اوریدو کمېسیون له ټولو معترضو کاندیدانو غوښتنه وکړه، چې نور دې خپل انتخاباتي شکایتونه دوی ته نه راوړي.

دیاد شوي کمېسیون رییس ډاکتر زلمي زابلي د مرغومي پر ۶مه، د ملي شورا په انګړ کې د یوې خبري غونډې پرمهال وویل، چې د ټاکنیزو قضیو د څېړنو په موخه ځانګړې محکمه جوړه شوې او کاندیدان دې هملته مراجعه وکړي. د سترې محکمې په وړاندیز او د جمهوري ریاست په منظورۍ د ولسي جرګې د ټاکنو د معترضو کاندیدانو د حقوقي ادعاوو د څېړنې په موخه ځانګړې پنځه کسیزه محکمه ورمه ورځ جوړه شوه. زابلي له یادې محکمې غوښتنه ۳مخ



سال ۲۰۱۱ برای افغانستان سال سرنوشت‌سازی خواهد بود

وزیر دفاع فرانسه در جریان سفر اخیر خود به افغانستان، سال ۲۰۱۱ را سال سرنوشت‌سازی برای افغانستان قلمداد کرد.

به گزارش روزنامهٔ فرانسوی "فیگارو"، "آلن ژوپه" روز گذشته در جریان سفر به افغانستان در اظهاراتی در خصوص دو خبرنگار فرانسوی ربوده‌شده در این کشور اعلام کرد: «من نمی‌خواهم امید واهی بدهم یا جدول زمانی برای آزادی این دو خبرنگار ارایه کنم، اما باید بگویم که اوضاع و شرایط مربوط به آزادی "اروه گسکیه" و "استفان تاپونیه" به خوبی پیش می‌رود.»

دو خبرنگار شبکه سه تلویزیون فرانسه و مترجم افغان آن‌ها، در روز ۳۰ دسمبر سال ۲۰۰۹، در منطقه‌یی در ولایت "کاپیسا" واقع در شمال کابل ربوده شدند.

منطقهٔ کوهستانی کاپیسا از جمله مناطق خطرناک افغانستان به شمار می‌رود و بخشی از نیروهای فرانسوی و بین‌المللی در این ناحیه مستقر هستند.

ربایندگان این دو خبرنگار علاوه بر درخواست باج، آزادی زندانیان سیاسی طالبان را نیز، به عنوان یکی از شروط خود برای آزادی این گروگان‌ها مطرح کرده‌اند و این ص۳

حزب اسلامی:
دولت باید په هېڅ ډول عملیاتو کې روسانو ته ونډه ورنه کړي

دولت پلوه حزب اسلامي سیاسي ګوند له دولت څخه وغوښتل، چې په هېڅ ډول نظامي او اوپراتیفي عملیاتو کې روسانو ته ونډه ورنه کړي.

دغه څرګندونې د دولت پلوه حزب اسلامي ډلې په هغې غونډه کې وشوې، چې د مرغومي پر ۶مه، په جلال اباد کې پر افغانستان د وخت د شوروي اتحاد د یرغل د ۳۱مې کلیزې په مناسبت جوړه شوې وه.

شوروي اتحاد، د ۱۳۵۸ لمریز کال په همدې ورځ (د مرغومي پرشپږمه) د وخت په عصري وسلو سمبال پوځ د حیرتان بندر له لارې افغانستان ته داخل کړ، ترڅو د خپل لاسپوڅي نظام ستنې ټینګې او په دې توګه خپلو اوږد مهالو موخو ته ورسېږي.

خو دغه پوځیان د افغان ولس له ټینګ مقاومت سره مخ شول او له لس کلن یرغل وروسته څوړند سرونه له دې ۳مخ



بلاخره که ځانګړې محکمه هم ستونزه هواره نه شي کړای!؟ ۲

د لوی او بښونکي خدای (ج) په نامه

سرمقاله

قیمتی فاجعه بارتر خواهد شد!

یکی از مواردی دیگری که مردم ما را تهدید می کند و نیز پیامدهای زیانباری را برای دولت و ملت زجر کشیدهٔ ما به همراه خواهد داشت، صعود بی سابقهٔ قیم اجناس به ویژه مواد خوراکه و اولیه است که در این اواخر در بازارهای کشور به طور بی سابقه بلند رفته است.

قرار گزارش رسانه‌های خبری، طی چند روز اخیر این روند به بالاترین گراف خود رسیده؛ چنانکه در نرخ مواد خوراکی و اولیه از جمله آرد، گندم و روغن چند برابر افزایش رونما گردیده است.

باید گفت که قیمتی و بلند رفتن نرخ اجناس در کنار ادامهٔ روزهای نهایت سرد موسم سرما درکشور، مشکلات مردم ما را دوچند ساخته است. سطح اقتصاد مردم ما در سطوح بسیار پایینی قرار دارد، که مردم با این سطح اقتصادی به هیچ صورت نمیتوانند، با این صعود بی سابقه در نرخ اجناس، مقابله نمایند.

قیمتی و بلند رفتن نرخ قیم از جملهٔ پدیده‌هایی است که ادامهٔ آن، افزون بر اینکه، دامنهٔ فقر و بدبختی ناشی از آن را در کشور وسیعتر و گسترده‌تر می سازد، باعث مشکلات جدی‌تر دیگری نیز، می گردد.

در مورد اینکه چه عواملی باعث شده که این قیمتی‌ها را به بار آورده، باید گفت که در این مورد علل زیادی وجود دارد؛ برعلاوه از تاثیرات ناشی از سیستم اقتصادی بازار آزاد که نه سال گذشته مردم ما را خورد و خمیر ساخت و عدم وجود شفافیت در کارکردهای دولت و افزایش بی حد و حصر فساد اداری در نهادهای مربوط و عدم رشد سیستم زراعتی کشور در اثر خشکسالی های متداوم و بی توجهی دولت به این سکتور که کاهش مواد ارتزاقی را در کشور به بار آورده است، به حیث عامل عمده و موثر، در این راستا یاد آور شد. گذشته از آن ناهنجاری‌ها و نابسامانی‌های موجود در سیستم اقتصادی و تجارتی کشور نیز در این زمینه جای ویژهٔ خود را دارد. دولت در طول نه سال گذشته نه تنها که نتوانسته با ابتکار عمل و راه اندازی شیوه‌های کارا، به سیستم زراعتی کشور که یکی از فکتورهای مهم و اساسی در جلوگیری از افزونی در قیم مواد خوراکی به شمار می رود، بهبودی و شگوفایی بخشد، بلکه با عدم توجه به آن، سیستم زراعتی کشور را که در فرآوری مواد ارتزاقی سکتور عمده و اساسی است، ضربهٔ کاری زده و آنرا با رکود مواجه ساخته است.

این همه عوامل دست به دست هم داده، قیمتی و افزایش در نرخ اجناس را در کشور به وجود آورده و دولت نیز با بی توجهی به آن نگریسته و هیچگاه در زمینه برخورد مسوولانه و دلسوزانه نه تنها که نداشته است، بلکه در برخی موارد با راه اندازی راهکارهای غیر متناسب، خود باعث گسترده شدن دامنهٔ آن گردیده است.

در حالی که یگانه مرجع امید مردم دولت می باشد، مردم امیدوار بودند که شاید امروز یا فردا دولت در این مورد، اقدام مناسب و تصمیم قاطعی را خواهد گرفت و حداقل اگر از کاهش در روند آن ناتوان است، از گسترده‌گی ابعاد آن به صورت حتم پیشگیری خواهد کرد، اما به گفتهٔ ضرب المثل مشهور دولت در "خواب خرگوشی" بوده، که نه صدای فریاد کسی را می شنود و نه آن توانایی در او باقی مانده است.

بنابر این، اگر دولت در راه کاهش قیم، گام‌های مثمر و موثری به وقت و زمانش بر ندارد، افزون بر آن فاجعه‌یی که هر روز به سر مردم بی‌گناه و مظلوم ما می ریزد، و آنان را همه روزه خود می آزارد، این پدیده نیز به فاجعه تبدیل شده و هزاران انسان مظلوم و بی گناه دیگر را به کام مرگ فرو خواهد برد، که آن وقت دیگر بسیار دیر خواهد بود که از آن جلوگیری کرد ویا در زمینه تصمیم گرفت.

بلاخره که ځانګړې محکمه هم ستونزه هواره نه شي کړای!؟

محمداحسان پنجشیری



د تېرې سنبلې د اووه ویشتمې نېټې د ولسي جرګې له ټاکنو داسې یوه معما جوړه شوې، چې هېڅوک نه پوهېږي، چې حل یې له چاسره دی. د دغو ټاکنو موضوع د ټاکنو له ورځې تر اوسه پورې رسنۍ او مطبوعات ښه ګرم او تاوده ساتلي او هره ورځ د لیدنیو، اورېدنیو او کتنیو رسنیو د سرخبرې جوړوي. دا خو ټول ملت او ولس ته په ډاګه شوه او ملت دا پخپله مشاهده کړه، چې ټاکنې څه ډول وې، څه ډول ترسره شوې او څه په کې وشول؟ خو مهمه خبره داده، چې اخر به څه کېږي، د ملت برخلیک به په کومه ځې او بلاخره د دغو ټاکنو اصلي پایله به څه وي؟ دا هغه پوښتنې دي، چې د ملت له هر وګړي سره نن سبا شته او حل ته یې سترګې پر لار دي. موږ به دلته لومړی د ټاکنو د موضوع پر جنجالي کېدو یو څه رڼا واچوو، چې ولې جنجالي شوې او تر شا یې کوم لاسونه وو او بیا به د ولسمشر په منظورۍ د ځانګړې محکمې پر رول، ارزښت او واک باندې رڼا واچوو.

د ټاکنو موضوع هغه وخت جنجالي شوه، چې په اړه یې د سختو درغلیو مسئله راپورته شوه، دا درغلۍ له یوې خوا د ټاکنو په بهیر کې ترسره شوې او په پراخه اندازه او نژدې په ټول هېواد کې وشوې او په اړه یې په زرګونو زرګونو لوی شکایتونه ثبت شول او بل لور ته په کمېسیون کې هم د پراخو درغلیو په باب راپورونه خپاره شول او دا په کې ډاګه شوه، چې په کمېسیون کې هم سختې درغلۍ شوي. د همدغو درغلیو موضوع دومره جنجالي شوه، چې ان د هېواد په ډېرو سیمو کې لاریونونه پیل شول او د ټاکنو د لغوې غوښتنه په کې کېدله. بلاخره لویې څارنوالۍ د موضوع د سپیناوي او حل په موخه پلټنې پیل کړې او د درغلیو د دوسیو د څېړلو کار ته یې مخه کړه، خو د ټاکنو کمېسیون او د ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون ورسره مخالف وښود او ویې ویل، چې هېڅ بل ارګان حق نه لري، چې د ټاکنو په پایلو کې ګوتې ووهي، ځکه دا ټاکنو او ټاکنیزو شکایتونو کار دی او بل څوک په کې د لاسوهنې حق نه لري، خو بالمقابل لویې څارنوالۍ ادعا کوله، چې د ټاکنیزو شکایتونو ډېری دوسیې داسې دي، چې د ټاکنو مشروعت له منځه وړي او پر همدې بنسټ یې د ټاکنو د لغوه کولو غوښتنه وکړه. لویې څارونوالۍ د خپلو دوسیو تر بشپړولو وروسته سترې محکمې ته وړاندیز وکړ، چې د ټاکنو په هکله وروستۍ پرېکړه وکړي او اړوندې ټولې دوسیې یې محکمې ته وسپارلې. لویې څارنوالۍ د ټاکنیزو شکایتونو ۲۳۲ دوسیې نژدې ۲۰ ورځې مخکې له ۳۵ ورځو څېړنو وروسته سترې محکمې ته لېږلې دي او د ټاکنو د پایلو د لغو کېدو، د یوه خپلواک کمېسیون له خوا د رایې د بیا شمېرلو او د ټاکنیزو کمېسیونونو د ۱۴ غړیو د مجازاتو غوښتنه یې کړې ده.

لوی څارنوال ادعا کوي، چې د ټاکنو په پروسه کې سرغړونې او درغلۍ دې کچې ته رسېدلي دي، چې د ټاکنو مشروعیت ته یې زیان اړولی دی. همدشان له بلې خوا د سلواغې لومړۍ نېټې ته شاوخوا شل ورځې پاتې دي، چې ټاکل شوې نوې ملي شورا د ولسمشر کرزي له خوا پرانیستل شي. خو همدې ټولو حالاتو ته په کتو سره د افغانستان ستره محکمه وایي چې ددې نهاد په وړاندیز او د جمهوري ریاست په منظورۍ د ولسي جرګې د ټاکنو د معترضو کاندیدانو د حقوقي ادعاوو د څېړنې په موخه ځانګړې محکمه جوړه شوې ده. یوه اونۍ مخکې د افغانستان سترې محکمې د ټاکنو قضیې د ژر تر ژر هوارولو په موخه د قطعي فیصلې صلاحیت لرونکې ځانګړې محکمې د جوړېدو وړاندیز جمهوري ریاست ته لېږلی و. د سترې محکمې د نشراتو رییس عبدالوکیل عمري د مرغومې پر شپږمه وویل چې د سترې محکمې وړاندیز وړمه ورځ د جمهور رییس له خوا منظور شو. نوموړي وویل: "دغه محکمه پنځه

۳ مخ

بیست وهفت سال خدمتگذاری، با صداقت و ایمانداری:

عبدالقدیر میرزایی

خدمت به مردم در فرهنگ و تاریخ افغانستان از جایگاه ویژه یی برخوردار است که به حیث پسندیده ترین عمل در دین مقدس اسلام همواره مورد احترام مردم ما بوده و می باشد.

کم نبودند و نیستند افرادی که در جامعهٔ ما به خاطر مردم مصیبت ها و زحمت های فراوانی را متقبل شدند و از هیچ فرصتی برای خدمتگزاری به مردم خود دریغ نکردند، هموطنانی را می شناسم که به حیث دکتور، معلم، تاجر، عالم دین، سرباز، روزنامه نگار و... با تحمل رنج و مشکلات زیاد زنده گی، درانجام وظایف شان کوشا می باشند و برای بدست آوردن لقمهٔ نان حلال و زنده گی شرافتمندانه، خیر خود را در خیر دیگران جستجو می کنند.

یکی از خدمتگزارانی که می خواهم به حیث نمونه از او دراینجا اظهار امتنان نمایم، بریدجنرال پوهنوال دکتوربهاالدین نجرابی می باشد.

نامبرده به حیث یک دکتورلایق و حاذق ۲۷ سال از عمر پربار خویش را در خدمت معالجهٔ بیماران سپری کرده است، جناب دکتور نجرابی افزون بر طبابت در خدمت محصلان رشتهٔ طب هم بوده و به حیث استاد فهیم، شاگردان زیادی در راه مسلک شریف طبابت داشته است.

پوهنوال دکتور بهاالدین نجرابی مدت ۱۶ سال به صفت سر جراح در شفاخانهٔ چهار صد بستر در خدمت بیماران بوده واخیراً به صفت معاون ریاست صحیهٔ اردوی ملی کشور تعیین شده است. نامبرده هزاران بیمار را با دستان توانای خویش تحت عمل جراحی قرار داده و از شفاخانه مرخص نموده است.

نویسنده که از مدتی به این سو از بیماری درد پا رنج می بردم، در روزهای پایانی کار جناب آقای نجرابی در شفاخانهٔ چهارصد بستر، تحت نظر ایشان مورد عملیات جراحی قرار گرفتم که به فضل خدای کریم و توجه جناب ایشان بهبود یافتم.

در مدتی که در شفاخانه بستری بودم، ایشان با من و سایر بیماران و بیمار داران برخورد نیکی داشتند و من به چشم سر شاهد منش اسلامی و انسانی جناب نجرابی بودم.

از قبل هم که من با ایشان آشنا بودم، وی به حیث دکتور لایق، صرف نظر از بیماری تعصب قومی و اینکه فلان بیمار صاحب ثروت و مقام است، با همه برخورد نیک و منصفانه یی داشتند.

بدون تردید، جناب آقای نجرابی و افرادی مثل آنان، مایهٔ افتخار مردم ماست و کشور ویرانهٔ ما به وجود آنان ضرورت مبرم دارد.

از زحمات جناب آقای دکتور نجرابی و تیم جراح وی، شامل دکتور سیدامین سادات، دکتور عتیق، دکتوراحسان و سایر همکاران وی، قلباً سپاسگزارم وبرای ایشان از بارگاه خدای رحمن آروزی سعادت در دنیا و آخرت دارم.

سال ۲۰۱۱ برای افغانستان سال ...

در حالی است که دولت کابل و واشنگتن با آزادی این زندانیان مخالف اند. وزیر دفاع فرانسه در ادامه در دیدار با نظامیان فرانسوی مستقر در افغانستان در روز کریسمس اعلام کرد: «روز کریسمس روز ویژه‌یی است و من می‌خواهم بگویم که ما به شما اعتماد داریم. وظیفهٔ وزارت دفاع این است که شرایطی را که تحت آن نظامیان فرانسوی در حال مأموریت هستند، به دقت زیر نظر داشته باشد.» وی افزود: «سال ۲۰۱۱ برای افغانستان سالی سرنوشت‌ساز خواهد بود و طبق جدول زمانی تعیین شده، خروج نیروهای فرانسوی از افغانستان و سپردن مسوولیت به افغان‌ها از سال ۲۰۱۱ به تدریج آغاز خواهد شد و تا سال ۲۰۱۴ پایان خواهد یافت.»

بلاخره که ځانګړې محکمه هم ...

غړي لري. "

د عمري د معلوماتو له مخې، د کابل ولایت د استیناف محکمې رییس قضاوت مل صدیق الله حقیق د دې محکمې د رییس په توګه، د بغلان ولایت د استیناف محکمې رییس قضاوتپوه عبدالرحیم کریمي، د جوزجان ولایت د استیناف محکمې رییس قضاوت مل فضل الرحمن فضلي، د کابل ولایت د استیناف محکمې د عامه امنیت دیوان رییس محمد صفا کریمي او د سترې محکمې د عامه امنیت دیوان مستشار قضاوتیار دل محمد د دې محکمې د غړو په توګه ټاکل شوي دي. په دې ډول دی اوس د ځانګړې محکمې جوړېدو ته خبره راورسېده، خو دا تر اوسه معلومه نه ده، چې ایا ځانګړې محکمه به څه ډول کار کوي او څه پرېکړه به کوي او ایا د سلواغې په میاشت کې به نوې ولسي جرګې پرانیستل کېږي او که به د ټاکنو پایلې لغوه کېږي او که به کومه بله پرېکړه کېږي؟ دا هغه څه دي، چې تر وخت مخکې ځواب ورته ناشونی دی، خو په دې برخه کې مهمه خبره داده، چې د دې محکمې پرېکړه باید هر اړخیزه او د ملي ګټو او ملي هویت پر بنسټ ولاړه وي، ځکه دا وروستۍ محکمه ده، چې د رواني کشالې د پای ته رسولو په موخه جوړېږي او که چېرې دا محکمه هم د مصلحتونو او ځینو نورو سیاسي موخو پر بنسټ پرېکړه وکړي او د ملت غوښتنې، ملي هویت او ملي ګټې په پام کې ونه نیسي او همداشان دغه ځانګړې محکمه هم ستونزه هواره نه شي کړای شي، نو نه یوازې به یې له ټول افغان ولس سره جفا کړې وي، بلکې افغان ولس او افغانستان به یې هم په یوه لوی ناورین کې اچولی وي.

پاکستان دلیل ناامنی در منطقه را ...

صورت می گرفت، اما اکنون با توجه به وضعیت منطقه، حکومت پاکستان درک نموده که لانه های تروریستان در خاک آن کشور موجود است.

سخنگوی رییس جمهور همچنان با اشاره به نشست سه جانبه مقام های افغانستان، پاکستان و فرماندهی آیساف در کابل، ابراز امیدواری کرد که این مذاکرات نتیجهٔ مطلوبی در پی خواهد داشت.

مشرانو جرګې هم معترضو ...

وکړه، چې خپلې ټولې پرېکړې دې په علني توګه ترسره کړي، تر څو د دوهم ځل لپاره د شکایت ځای پاتې نه شي. هغه زیاتوي: ((که دغه محکمه د قانون خلاف پرېکړه وکړي، بیا موږ د کاندیدانو په څنګ کې یو.)) د زابلي د معلوماتو له مخې، د ټاکنو په اړه دوی ته تر اوسمهاله ۷۴۷ شکایاتونه راغلي، چې تر څېړنې وروسته یې لویې څارنوالۍ ته استولي دي. لویې څارنوالۍ د ټاکنیزو شکایتونو ۲۳۲ دوسیې نژدې ۲۰ ورځې مخکې له ۳۵ ورځو څېړنو وروسته سترې محکمې ته لېږلې دي او د ټاکنو د پایلو د لغو کېدو، د یوه خپلواک کمېسیون له خوا د رایو د بیا شمېرلو او د ټاکنیزو کمېسیونونو د ۱۴ غړیو د مجازاتو غوښتنه یې کړې ده.

د معترضو کاندیدانو له ډلې څخه معین مرستیال پژواک خبري اژانس ته وویل چې دوی د ځانګړې محکمې تشکیل ته په پام، پوره هیله من نه دي.

دغه محکمه کې د کابل ولایت د استیناف محکمې رییس قضاوت مل صدیق الله حقیق د رییس په توګه، د بغلان ولایت د استیناف محکمې رییس قضاوتپوه عبدالرحیم کریمي، د جوزجان ولایت د استیناف محکمې رییس قضاوت مل فضل الرحمن فضلي، د کابل ولایت د استیناف محکمې د عامه امنیت دیوان رییس محمد صفا کریمي او د سترې محکمې د عامه امنیت دیوان مستشار قضاوتیار دل محمد، د دې محکمې د غړیو په توګه معرفي شوي دي.

مرستیال وایي، څرنګه چې د ټاکنو خپلواک کمېسیون تر بهرني او داخلي فشار لاندې وه، دغه محکمه به هم تر فشار لاندې وي. که څه هم لویه څارنوالي په انتخاباتو کې د پراخې درغلیو خبره کوي او د کاندیدانو شکایتونه هم په خپل ځای دي، خو له بلې خوا ټاکل شوې ده، چې د سلواغې پر لومړۍ ولسمشر حامد کرزی دویمه تقنیني دوره پرانیزي.

مرستیال وایي چې سترې محکمې ورسره ژمنه کړې، چې تر څو دوی وروستۍ پرېکړه نه وي کړي، نو ملي شورا به نه پرانېستل کېږي.

دولت باید به هیڅ ډول عملیاتو کې ...

خاورې ووتل. روسیه چې ډېرې افغانان ورته اوس هم د پخواني شوروي اتحاد په سترګه ګوري او لا یې د هغوی له لاسه خوړلي تپونه نه دي جوړ شوي، په دې وروستیو کې یو ځل بیا غواړي، له افغانستان سره مرستې وکړي او دلته خپل شتون وښیي. خو په ننګرهار ولایت کې د حزب اسلامي سیاسي ډلې ځایي مشر معلم عبدالعلي وایي، چې د افغانستان اوسنی ناورین د همدې روسانو له امله رامنځته شوی دی. نوموړي پر افغان دولت غږ وکړ، چې په هیڅ ډول نظامي او اوپراتیفي عملیاتو کې دې روسانو ته ونډه نه ورکوي. هغه زیاته کړه: ((که چېرې روسیه یو ځل بیا د افغانستان په قضیه کې شامل کړای شي، نو دولس کرکه به راوپارېږي او ناامنۍ به زیاتې شي.)) نوموړي له غونډې وروسته پژواک اژانس ته وویل، چې له دې غونډې یې موخه په ځوان نسل کې د خپلواکۍ او وطن پالنې احساس ژوندی ساتل او د یرغلګرو پر وړاندې د کرکې څرګندول وو. معلم عبدالعلي وویل، چې د ټولو نړیوالو نورمونو او موازینو پر خلاف سرې لښکرې هېواد ته راغلې، چې لا تراوسه یې غمیزه پای ته نه ده رسېدلې. د ولسي جرګې په تېرو ټاکنو کې له ننګرهار ولایت څخه بریالي کاندید او د حزب اسلامي ګوند غړي انجنیر عبدالغفار قایل غونډې وویل، چې د روسانو پر ضد د سنګر د یوه مجاهد په توګه به هېڅکله د روسانو جنایتونه هېر نه کړي. هغه زیاته کړه، چې افغانان د بهرنیو ځواکونو شتون نه مني او له هېواد څخه یې د دغو ځواکونو د وتلو غوښتنه وکړه. نوموړي پر نړیوالې ټولنې غږ وکړ، چې د افغان ځواکونو روزنه دې چټکه کړي، تر څو د دوی ځواکونو ته اړتیا ونه ولیدل شي. انجنیر غفار پر دې هم سخته نیوکه وکړه، چې درې میاشتې مخکې روسي مشاورینو له امریکایانو سره یو ځای په شینوارو کې د نشه یي توکیو پر ضد په عملیاتو کې برخه اخیستې وه. هغه وویل: ((موږ هڅه کوو، چې د حزب اسلامي د حکمتیار ډله هم د خبرو اترو له لارې له دولت سره یو ځای شي.)) د افغانستان د ښځو ټولنې مشرې فتانې ګیلاني وویل، چې د شوروي یرغلګرو پر وړاندې د افغان ولس مبارزه ستایي او ویاړي، چې د جهادي کاروان لاروی وه. نوموړې وویل، چې ټولنه یې په امریکایي ولسمشر اوباما غږ کوي، چې افغانان له جګړې کرکه لري، ملي ځواکونه دې پیاوړي کړي، چې د افغاني ډیالوګ لپاره لاره هواره او پر ازادۍ مین افغانان د خپلواکۍ څښتنان شي.

د ټاکنیزو دوسیو د څېړلو لپاره ...

کړه، د دغې محکمې قاضیان کابل ته رسېدلي او نن په رسمي توګه په خپل کار پیلوي.

په هر حال، دا مسئله اوس پر یو حقیقت بدله شوې، چې د افغانستان پارلماني ټاکنې له درغلیو، جعلیاتو او تقلباتو ډکې ټاکنې وې، د دغو درغلیو او ټګیو لمنه دومره پراخه ده، چې د دې اړتیا فرض ګرځوي، چې باید وځېړل شي او ولس ته یې پایلې اعلان شي، ځکه که دا چارې ترسره نه شي، نو دا د افغانستان د ډیموکراسۍ په لمنه تر ټولو تور او له ننګه ډک داغ وي، چې سبا به یې پر وینو منځل هم ممکن نه وي، خو دا چې د هېواد د اوسني بحراني حالت په پام کې نیولو سره، د دې کار لپاره باید کومه تګلاره غوره شي او د دې کار د ترسره کېدو لپاره څرنګه کړنلاره ترلاس لاندې ونیول شي، چې له امله یې دغه چارې په عدالت او بې پرې توګه وځېړل شي، او آیا دغه اختصاصي محکمه چې د سترې محکمې په وړاندیز او د دولت په منظورۍ رامنځ ته شوې، څومره خلک پرې ډاډ کولی شي، چې په خپله به په فساد کې نه ډوبېږي او په عادلانه او بې پرې توګه به د معترضو نوماندانو اعتراضونو ته رسېدنه کوي؟ موږ دغه موضوع د هېواد له څو تنو څېړونکو، سیاسي کارپوهانو او اهل نظرو سره څېړلې، چې لنډیز یې په لاندې توګه وړاندې کېږي:

د افغان نشراتي مرکز رییس او سیاسي کارپوه، ښاغلي سید داوود په اړه وایي: ((کله چې، تېر کال د ولسمشرۍ ټاکنې ترسره او د درغلیو مسئله مطرحه شوه، نو د ملګرو ملتونو د هغه مهال ځانګړي استازي کاي ایډې د ولسمشر خواونیول او مرستیال یې پیتر ګالبرایت د ډاکټر عبدالله په خوا ودرېده، په دې ترڅ کې د ډاکټر عبدالله له خوا ټاکنې تحریم شوې، ځکه چې ډاکټر عبدالله غوښتنه درلوده، چې د ټاکنو د کمېسیون مشر او مرستیال باید بدل شي، خو دغه مسئله ښاغلي کرزي نه منله، په دې توګه کله چې د ډاکټر عبدالله غوښتنې د ولسمشر له خوا نه منل شوې، نو د ولسمشرۍ دویم ځلې ټاکنې یې تحریم کړې، خو کله چې ولسمشر د بیا لپاره واک ته ورسېد، نو د ټولټاکنو په قانون کې یې یو لړ اصلاحات او په خپله خوښه بدلونونه رامنځ ته کړل، چې د ولسي جرګې له خوا رد شو، خو ولسمشر دغه قانون د یو تقنیني فرمان په ترڅ کې نافذ اعلان کړ. د دغو تغییراتو او ناندریو په رڼا کې په پای کې ولسمشر د استاد رباني او خپل لومړي مرستیال ښاغلي فهیم په خوښه، فضل احمد معنوي چې د شمال ټلوالې غړی دی، د ټاکنو کمېسیون د رییس په توګه او سیدمراد شریفي یې چې د ده له ډلې سره نژدې اړیکې لري، د شکایتونو کمېسیون د مشر په توګه وټاکل، په دې ترتیب، ولسمشر او مرستیالان یې د یو خپلمنځي تفاهم له مخې، د ولسي جرګې د ټاکنو په اړه تفاهم ته ورسېدل، خو وروسته د ولسي جرګې د ټاکنو په پایله کې د ولسمشر مطلوبو کسانو ولسي جرګې ته لاره پیدا نه کړه، بالعکس د ده په مرستیالانو پورې اړوند کسان بریالي اعلان شول. دغې پایلې او ټاکنې په کابل کې د ملګرو ملتونو د ځانګړي استازي دمیستورا او د امریکا، بریتانیا، روسیې، ایران هېوادونو له خوا هم تایید شوې. په دې اساس دغه ستونزه، په اصل کې د ولسمشر او مرستیالانو ترمنځ ده، چې نژدې دوې نیمې میاشتې کېږي، دوام لري او ورځ په ورځ لا کړکېچنه کېږي، د دغو کړکېچونو په پایله کې مسئله لویې څارنوالۍ او سترې محکمې ته راجع شوه، چې اوس دا دی، ستره محکمه اعلانوي، چې په دې اړه د دوسیو څېړلو ته ځانګړې محکمه جوړوي.))

دا چې دغه محکمه به څومره وکولی شي، حق حقدار او عدالت تامین کړي، ښاغلي حاجي سید داوود یې په اړه وایي: ((اصل مطلب دا دی، چې د افغانستان په اساسي قانون کې عدلي او قضایي ارګانونه باید خپلواک وي، خو زموږ په هېواد کې لکه د نورو قوو په شان د دې قوې په چارو کې هم ولسمشر مداخله کوي او د خپلې خوښې کسان په کې ګماري، فلهذا دغه محکمه که څه هم په نامه آزاده ده، خو په دغسې حالاتو کې به یې پرېکړې له ولسمشر سره په تفاهم کې صورت مومي.)) ښاغلی سید داوود زیاتوي: ((اصلا د نهو کلونو په بهیر کې د افغانستان په مهمو اداروکې کومې ټاکنې چې شوي، ټولې د ولسمشر په خوښه او په دې لړ کې ولسمشر ته نژدې کسان پر دندو ګومارل شوي، پر دې بنسټ، تر دې وروسته د هرې موخې تر عنوان لاندې چې کومې ټاکنې کېږي، یا نوې اداره او کمېسیون جوړېږي، پرېکړې او کړنې به یې ټولې مصلحتي او د قدرت د کړیو د ګټو تابع وي.))

داسې ښکاري چې ولسمشر د دا ډول لوبو او معاملو په وسیله غواړي، بېلابېل هدفونه ښکار کړي، ښاغلي سید داوود دې ټکي ته په پام سره وایي: ((ولسمشر د معترضو کاندیدانو د خوشحالولو لپاره دا مسئله قانوني مراجعو ته وړاندې کړه، مګر له دې ټولو سره سره ولسمشر په پام کې لري، چې د روان کال د سلواغې پر لومړي نېټه ولسي جرګه پرانیزي، ولسمشر د دغې محکمې په رامنځ ته کولو سره په پام کې لري، چې له خپلو سیالانو ګټه پورته کړي او د مشرانو جرګې د انتصابي سناتورانو په منصوبولو او همدارنګه د پاتو اوو وزیرانو په نوماندولو کې خپل امتیازات ترلاسه کړي او باید وواید، چې دا ټول بهیرونه سیاسي معاملې دي، چې پکې ملي ګټې له پامه غورځېدلي او د قدرت کړۍ پکې خپلې ځانګړې ګټې پالي.))

لیکوال او د سیاسي چارو کارپوه وحید مژده دې ټکي ته په پام سره، چې په دې برخه نظرونه بېل بېل دي، وایي: ((په دې برخه کې دوه نظرونه شتون لري، یو د ټاکنو د کمېسیون او هغه دادی، چې تر دې وروسته چې د ټاکنو کمېسیون خپل کار سر ته ورساوه، هېڅ مرجع د دې واک نه لري، د ټاکنو مسئلې وځېړي او وې ارزوي. دویم هم د حقوقپوهانو نظر دی، حقوقپوهان په دې نظر دي، چې د افغانستان په اساسي قانون کې دغه مسئله ذکر شوې، چې د هر ډول شخړو او لانجو د واورۍ مرجع ستره محکمه ده. پر دې بنسټ، کله چې موږ دغه دواړه نظرونه ګورو، دې پایلې ته رسو، چې بیا هم ستونزه په اساسي قانون کې شته، چې هغه په اساسي قانون کې د ابهام د شتون مسئله ده او دغه موضوع دې لامل ګرځېدلې، چې په دې برخه کې دوه بېلابېل نظرونه رامنځ ته شي. خو دا هم باید هېره نه کړو، چې په دې برخه کې، یوه بله مرجع چې نوی یې خپل کار پیل کړی، هم شتون لري، چې هغه د اساسي قانون پر تطبیق باندې د نظات کمېسیون دی، په دې اړه باید دغه کمېسیون خپل نظر څرګند کړي او دغې ستونزې ته رسېدنه وکړي، خو اوس دا چې دغه مرجع هم ځان تېر باسي او څرګندوي، چې د اساسي قانون تفسیر زموږ دنده نه ده، کله چې د دوی دنده هم نه شوه، نو موضوع سترې محکمې ته راجع کېږي، خو دا باید له یاده و نه باسو، چې هغه اساسي ټکی چې دلته ناڅرګند پاتې دی، هغه دا دی، چې دغه وروستنۍ مرجع به په دې اړه څرنګه او څه ډول اجراات وکړي او د کومو کړنلارو له مخې به ګام واخلي.))

د حقوقي چارو کارپوه ښاغلي څارنوال شرافت وصیل په دې اړه څرګندوي، موږ د دې محکمې د صلاحیت او نه صلاحیت او د جوړېدو د قانوني والي په اړه باید دومره وواید، چې د قضاییه قوې د تشکیل او صلاحیت قانون د ۲۷ مې مادې پر اساس ستره محکمه دا صلاحیت لري، چې د یوې موضوع او شخړې د واورۍ لپاره چې هغې ته په قانون کې کومه خاصه محکمه وجود و نه لري، ریاست جمهورۍ ته د اختصاصي محکمې د جوړېدو وړاندیز وکړي، خو دا کومه اختصاصي محکمه چې اوس جوړه شوې نه شي کولی په کلي ډول دغه ستونزه له منځه یوسي، ځکه چې کمېسیون انتخابات اعلان کړي، چې د دوی په کارونو کې څوک مداخله نه شي کولی او دوی خپلواک دي او له بلې خوا بریالیو کاندیدانو هم ګواښنه کړي، چې که د دوی حق تلف شي، نو هرې کړنې ته تیار دي، البته دغه محکمه دومره کولی شي، با نفوذه کسان کامیاب او هغه کسان چې نفوذ یې لږ او د ګواښ کچه یې ټیټه ده، ناکام اعلان کړي او بس، چې بیا هم عدالت نه تامینېدلای او ستونزه پر خپل ځای پاتې کېږي.

سالی که گذشت

میرصادقی

بخش پنجم



بار دومی که کرزی با تمام جدل ها و جنجا ل های فساد، انتخابات را برد و به قدرت رسید، سیاست اصلی خود را بر محور صلح با طالبان بنا نهاد و به این خاطر اعلان کرد که ملا محمدعمر در هر جایی باشد، می رود و با او مصالحه می کند. وی بعد این را جزء کار اصلی و خط مشی دولتش در این مرحله قرار داده و تمام کار خود را بر این سیاست استوار نمود. کرزی طی نامه یی از شاه عربستان خواست، تا در این روند به حکومت او کمک کند و از تاثیرات خود بر طالبان استفاده نماید، شاه عربستان در جواب گفت که هر چه از او ساخته باشد، در این راه دریغ نخواهد کرد. ملک عبدالله در ماه رمضان عده یی از طالبان را جهت صرف افطار به عربستان سعودی دعوت کرد. لذا این شایعه که عربستان سعودی می خواهد، در قضیهٔ افغانستان میانجیگری کند، در آن زمان پخش شد. اما بعدها وزیر خارجهٔ دولت عربستان اعلان کرد که این کشور حال تاثیری بر طالبان نداشته و قادر به برقراری مصالحه نیست. بعدتر ترکی الفیصل مسوول سابق شبکهٔ استخبارات سعودی اعلان کرد که چون طالبان با القاعده در پیوند قرار دارد و تا زمانی که انفصال خود را از این شبکه اعلان نکند، نمی تواند در این مصالحه شرکت کند. در این میان گفته شد که ملا برادر که در آن زمان نفر دوم و وزیر دفاع طالبان به حساب می آمد، چند بار با پاسپورت بدل به دوبی رفته و با برادر کرزی جلساتی در مورد برقراری صلح داشته است. در این میان، یکباره اعلان شد که ملا برادر که از قبیلهٔ پوپلزایی و قومی کرزی بود، توسط نیروهای امنیتی پاکستان دستگیر شده است، بعد اعلان شد که ملاطیب و ملا کبیر نیز، دستگیر شده اند. دولت افغانستان چند بار از دولت پاکستان خواست، تا ملا برادر و همراهان او را به افغانستان تحویل دهد، اما دولت پاکستان از این کار ابا ورزید و بعدها دوباره رها شد که معلوم نیست، در چه روابطی حال با طالبان و پاکستان قرار دارد. با آنکه تیر کرزی را پاکستان در مصالحه با طالبان به خاک زد، اما کرزی شعار مصالحه را فروگذار نکرد و بعد دست به تشکیل جرگهٔ مشورتی صلح زد.

این جرگه که برای دو روز در خیمهٔ لویه جرگه در پولیتخنیک بر گزار شد. در آن ۱۶۰۰ تن شرکت کردند و از تمام ولایات نماینده گانی که به وسیلهٔ کمیسیون تعیین شده بود، برای دو روز در این جرگه شرکت نمودند. در جریان سخنرانی افتتاحی این جرگه، طالبان چند راکت به سوی خیمهٔ لویه جرگه شلیک کردند و بعد یک گروپ از طالبان می خواست، تا از طریق خوشحال خان خود را به خیمه نزدیک کند که در گیری سختی میان آنان و پولیس در گرفت که تلفات و زخمی های به بار آورد و سه حمله آور طالب به قتل رسیدند. بعد یک عامل طالبان که می خواست، مسلحانه وارد خیمه شود، توسط نیروهای امنیتی دستگیر شد. این عملیات طالبان در این روز نشان داد که گروپی از رهبری طالبان شدیداً مخالف اعلان صلح کرزی بوده است. در این میان جنرال دیویدپتریوس اعلان کرد که امریکا از پروسهٔ صلح کرزی حمایت می کند، اما خود امریکا در آن شرکت نمی کند و به این صورت، آب سردی به گرمی این روند انداخت. چون همه به این باور بودند، تا زمانی امریکاییان خود در این پروسه شرکت و حمایت و هدایت نکند، ممکن نیست، این پروسه به سر برسد. بعد برهان الدین ربانی به عنوان رییس این جرگه تعیین شد، چیزی که تا آن زمان کسی باور نمی کرد. به خاطری که ربانی تا آن روز یکی از «مخالفان» سر سخت کرزی به حساب می آمد. این وظیفه به مجددی گذاشته شده بود، تا ربانی را به این ریاست معرفی نماید، اما مجددی این اعلان را با خشم و عصبیت و نارضایتی خاص و تحمیلی اعلان کرد. وی در حالی این ریاست ربانی را اعلان کرد که خود او قبلاً رییس کمیسیون تحکیم صلح بود و ادعا داشت که قادر به جلب چند هزار طالب به این پروسه شده است و به این خاطر، خواهان ارجگزاری فوق العاده یی به خود بود.

جرگه بعد از مشوره رهنمودهای خاصی ارایه کرد که یکی از آنها تشکیل شورای عالی صلح بود. بعد کرزی این شورا را ایجاد نمود. در این شورا که ۷۰ تن شرکت یافتند، ربانی در راس این شورا قرار داده شد و در حقیقت با این تصمیم ربانی، اپوزیسیون «تغییر و امید» داکتر عبدالله، بخش عمده یی حمایت جمعیت و شورای نظار را از دست داد. برای پیشبرد کار این جرگه و این شورای عالی، حدود ۵۰ میلیون دالر جاپان کمک کرد و آلمانی ها وعدهٔ ۱۸ میلیون یورو کمک را برای این پروسه دادند. بسیاری از تحلیلگران به این باور بودند که این شورای عالی نه کاری کرده می تواند و نه با واکنش هایی که طالبان از خود نشان دادند، این سیاست به جایی می رسید. لذا کرزی، برای عده یی از رهبران جهادی دفتری ساخت و آنان را مصروف نگهداشت. تا حال علایمی که نشان دهد، طالبان تمایل به مصالحه داشته باشند، به روشنی دیده نشده است.

با اینکه برای جرگهٔ مشورتی صلح از چند روز ترتیبات امنیتی گسترده یی گرفته شد و در این مورد تبلیغات بسیاری صورت گرفت، اما عملیات طالبان در یک کیلومتری خیمهٔ لویه جرگه، اصابت چند راکت در محدودهٔ این خیمه و نفوذ فرد مسلحی در داخل خیمه، اعتراضات بسیاری را علیه وزیر داخله و رییس امنیت ملی برانگیخت. کرزی، اتمر و امرالله صالح را نزدش خواست و ناکامی آنها را به رخ شان کشیده و از هر دو خواستند تا استعفا بدهند و به این صورت، مسوولیت ناامنی را به دوش این دو فرد گذاشت و همان لحظه استعفای آن دو را پذیرفت. بعد از چند روز تغییراتی در رده های بالایی اردو به میان آمد که در آن بسم الله خان که لوی درستیز اردو بود، به عنوان وزیر داخله و شیراحمد کریمی یکی از افسران سابقه به عنوان لوی درستیر به جای او تعیین شد.

این تغییرات گرچه بسیار آرام انجام گرفت، اما بسیاری آن را تفسیری در تغییر قومی اردو تلقی نمودند، چون بسم الله خان مربوط به شورای نظار و شمال بود، برخی ها به این باور بودند که بودن بسم الله خان در پست لوی درستیزی اردو تمایل به جلب افراد غیرپشتون در این صفوف بیشتر بود. لذا این عدم تعادل قومی میان صفوف اردو در پهلوی عوامل دیگر به این خاطر هم به راه افتاد. اما در آن زمان برخی از رسانه ها استعفای امرالله صالح را ضایعهٔ کلانی در پیشبرد امنیت دانستند. بعد از استعفای صالح، انجنیر ابراهیم مدتی سرپرست ریاست امنیت ملی شد و بعد رحمت الله نبیل به این سمت مقرر گردید. در آن وقت گفته می شد که آقای نبیل که مسوول گارد امنیتی کرزی بود، مورد حمایت انجنیر ابراهیم قرار داشت. اما در عمل دیده شد که بعد از این تغییر، نه تنها وضعیت امنیتی بد نشد، بلکه تا حدی عملیات خشن قبلی تکرار نشد.

ادامه دارد

کنوانسیون رفع کلیه تبعیضات علیه زنان

ماده نهم : ۲ – دولت های عضو در مورد ملیت کودکان به زنان حقوق مساوی با مردان اعطا خواهند کرد.

این پیام از طرف کمیسیون مستقل حقوق بشر افغانستان تقدیم گردید

برای نشر اعلانات تان به این شماره ها تماس حاصل نمایید: ۰۷۰۰۲۴۴۳۸۴ / ۰۷۸۳۱۶۰۴۵۰ – ۰۷۰۰۵۹۶۲۰۵ / ۰۷۹۷۸۵۹۰۴۰

ارادهٔ ورځپاڼه یوازې د سرلیکنې ننګه کوي، نورې لیکنې د لیکوال خپل نظر دی، ورځپاڼه یې مسولیت پر غاړه نه اخلي.

حق الاشتراک :
قیمت یک شماره: (۵) افغانی
سالانه: ۲۰۰۰ افغانی
شش ماهه: ۱۰۰۰ افغانی
برای موسسات و سفارتخانه ها:
سالانه ۳۰۰ دالر امریکایی
شش ماهه ۱۵۰ دالر امریکایی

مرکز نشرات افغان
روزنامهٔ ملی اراده
موسس و صاحب امتیاز: حاجی سید داؤد
مدیر مسوول : خادم احمد
موبایل :– ۰۷۰۰ ۵۹ ۶۲ ۰۵
Khadem.kabul@yahoo.com
معاون : استاد مرتضی فرحتیار
موبایل :– ۰۷۹۷۲۵۳۱۶۴
Farhatyarm@yahoo.com

ادیتور پشتو: مجیب الرحمن امیری
موبایل :– ۰۷۰۸۸۸۷۰۶۶
دیزاین : انجینیر محمدجمیل "امیری"
همکار تخنیکی: محمدجمیل "احمدی"
مسوول توزیع و بازاریابی: عبدالسمیع
۰۷۰۰۲۴۴۳۸۴
ایمیل:
erada.daily@yahoo.com
آدرس : دهمزنگ، عقب سینمای بریکوت، سرک اول کارته چهار.

ERADA DAILY
Afghan Media Resource center
Establisher and Concessionaire:
Haji sayed Daud
Editor in chief: Khadem Ahmad
Editor: Farhat yar
Pashto Editor: Mojiburahman Amiri
Designer: Eng, Mohammad Jamil Amiry
Address: Behind Baree kout-cinema,
first street of karti-e-char
Email: erada.daily@yahoo.com